د تیطوس په نوم د پولوس رسول خط

پیژندګلو

پولوس رسول دا د پاسبانۍ یعنې د مشرۍ خط تیطوس ته ولیکلو چې هغۀ له حکمت او ډاډګیرنه ورکړی ځکه چې هغۀ ته مسلسل د مخالفت مقابله کولو ضرورت وو د هغه خلقو سره چا چې خُدائ پاک نۀ پیژندو او د هغوئ سره هم چې شرعې مطالبې یې کولې.
پولوس رسول تیطوس ته هدایات ورکړل چې په خپله نګرانۍ کښې د جماعتونو مشران مقرر کړه لکه څنګه چې تا ته ذمه واری حواله شوې ده. هغۀ په دې بیان وکړو چې دا مشران څنګه په کار دی، او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا چې ایماندارانو له په خپل مینځ کښې څنګه تعلق په کار دے او دا یې ورته هم وښودل چې څنګه به غیر ایماندارانو سره خبرې اترې کوئ. د دې خط بنیادی مقصد دا دے چې د ایمان او عمل په خپلو کښې ژور تعلق دے او اخلاق د ایمان جُز دے. پولوس رسول په دې خط کښې هغه عقیدې ته اِشاره کوی چې همېشه د ښۀ اخلاق سره تعلق ساتئ. مونږ له په کار دی چې دُنیاوی خواهشونه پرېږدو او په موجوده زمانه کښې په پرهیزګاری، صداقت او دینداری سره ژوند تېر کړُو. بزرګان سړی دې خوش مزاجه وی، او مشرانې ښځې دې عبادت ګزارې وی او ځوانانو ښځو ته دې نصیحت کوی چې د خپلو خاوندانو او بچو سره دې مینه کوی، ځوانان هلکان دې خپل ځان په قابو کښې ساتی، غلامان دې د خپلو مالِکانو تابعدار وی، د دې دپاره چې د زیری پیغام د غیر ایماندارانو دپاره اثرناک شی. خلقو ته دا یاد دهانی یې هم کړه چې د جماعت تابعدار اوسئ او د غیر ضروری بحثونو نه ځان ساتئ. د حفظ کولو دپاره ۳: ۵ آیت ”نو هغۀ مونږ له خلاصون راکړو، خو د صداقت د کارونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په سبب نۀ، کوم چې مونږ په خپله کړی وُو، بلکې د خپل رحم په وسیله یې ووینځلُو او د روحُ القُدس په وسیله یې نوے ژوند راکړو.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دُعا او سلام

۱ دا خط د پولوس د خوا نه دے چې د خُدائ پاک غلام او
د عیسیٰ مسیح رسول دے. زهٔ د دې دپاره مقرر شوے یم چې هغه
خلقو ته د ایمان په حقله بیان وکړم کوم چې خُدائ پاک غوره کړی
دی او هغوئ ته د حقیقت تعلیم ورکړم چې ورته د دینداری ژوند
تېرول ورزده کړی. ۲ دا حقیقت هغوئ له د ابدی ژوندون اُمید
ورکوی، د کوم چې خُدائ پاک د ازل نه وعده کړې ده، خُدائ کله
هم وعده خلافی نهٔ کوی. ۳ په مقرر وخت هغهٔ خپل کلام ظاهر
کړو، کوم چې مونږ هر چا ته بیانوو. او دا زمونږ د خلاصوونکی
خُدائ پاک په حکم ما ته دا کار وسپارلے شو. ۴ زهٔ دا خط
تیطوس ته لیکم چې په ایمان کښې ما سره شریک زما وفادار زوئ
دے. خُدائ پلار او زمونږ خلاصونکے عیسیٰ مسیح دې تا له فضل
او سلامتی درکړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د کریت په جزیره کښې د تیطوس خدمت

۵ ما په کریت کښې تۀ د دې مقصد دپاره پرېښے وې چې تۀ
پاتې شوے خدمت پوره کړې او زما د حُکم په مطابق ښار په ښار
مشران مقرر کړې. ۶ د جماعت مشران دې بې‌اِلزامه او د یوې
ښځې خاوندان وی، او بچی دې ایماندار وی او د بدچلنۍ او د
نافرمانۍ د اِلزام نه دې پاک وی. ۷ ځکه چې د جماعت مشر دې
د خُدائ پاک د کار د مُختار کېدو په وجه بې‌اِلزامه وی، هغه دې
نۀ سرکشه، نۀ غصه ناک، نۀ شرابی، نۀ جګړه مار، او نۀ دې د
ناجائزې ګټې حرصناک وی. ۸ بلکې هغه دې مېلمه دوست،
نېک خواه، شریف، تقویٰ دار، پاک او په خپل ځان قابو ساتونکے
وی. ۹ هغه دې په هغه کلام کوم چې دۀ ته ښودلے شوے دے
پوره مضبوط ودریږی، ځکه چې دے به د دې جوګه وی چې خلقو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته صحیح تعلیم ورکولے شی او د مخالفینو مقابله به کولے شی. ۱۰ ځکه چې ډېر خلق داسې دی چې سرکشی کوی، هغوئ بدزبانه او دوکه باز دی، او دا خبره خاص د هغوئ په حقله صحیح ده څوک چې په سنټېدو باندې ټینګار کوی. ۱۱ په کار دی چې هغوئ چُپ کړے شی، ځکه چې د ناپاکه ګټې د تعلیم ورکولو په وجه هغوئ د خلقو مکمل خاندان بربادوی، کوم تعلیم چې ورکول نۀ دے په کار. ۱۲ د هغوئ پېغمبر په خپله داسې وائی چې، ”کریتیان همېشه دروغژن، وحشیان، ګېډه ور او ناراسته دی.“ ۱۳ دا پېشګوئي رښتیا ده، نو په دې وجه هغوئ په سختئ سره رټئ د دې دپاره چې د هغوئ ایمان ټیک شی. ۱۴ او هغوئ دې نۀ د یهودیانو قیصو ته توجو ورکوی او نۀ دې د هغه چا حُکمونو ته غوږ ږدی، څوک چې د حق نه منکر دی. ۱۵ د پاکو خلقو دپاره ټول څیزونه پاک دی، خو د بدکارانو او بې‌ایمانه خلقو دپاره هیڅ هم پاک نۀ دی بلکې د هغوئ عقل او ضمیر دواړه پلیت دی. ۱۶ هغوئ د خُدائ پاک د پېژندګلو دعویٰ کوی خو په خپلو عملونو کښې هغوئ د هغۀ نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِنکار کوی، ځکه چې هغوئ ناپاکه او نافرمانه دی او د یو نېک کار کولو قابل هم نۀ دی.

صحیح تعلیم ورکول

۱ خو تۀ هغه تعلیم ورکوه کوم چې د صحیح عقیدې په مطابق وی، ۲ بوډاګانو سړو ته ووایه چې هغوئ دې پرهیزګاره، درونده خوی لرونکی او شریف وی، او د هغوئ ایمان دې کلک وی، د مینې او صبر نه دې ډک وی. ۳ هم دغه شان زړو ښځو ته ووایئ چې حیادار درونده چال چلن دې کوی، هغوئ دې نۀ غیبت کوی او نۀ دې شرابی وی، هغوئ دې نورو ته د ښو خبرو تعلیم ورکوی، ۴ نو چې هغوئ ځوانانو ښځو ته دا ورزده کړی چې د خپلو خاوندانو او د خپلو بچو سره مینه کوی، ۵ او هغوئ دې شریفې، پاک لمنې او د کور ښۀ کار کوونکې او مهربانی کوونکې او د خپلو خاوندانو تابعدارې دې وی، نو د دې دپاره چې د خُدائ پاک کلام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بدنام نۀ شی. ۶ په زلمو هم دغه شان زور راوړه چې هغوئ دې
تقویٰ دار وی. ۷ په ټولو خبرو کښې خپل ځان د نېکو کارونو یو
مثال جوړ کړه، او په خپل تعلیم کښې پاکوالے او دروندوالے ښکاره
کړه. ۸ او د حقیقت تعلیم داسې ورکړه چې څوک هم په کښې
څۀ وئیلے نۀ شی، بیا به هر هغه څوک چې زمونږ مخالفت کوی
شرمنده شی او بیا به د هغوئ سره زمونږ په حقله د وئیلو دپاره څۀ
اِلزام نۀ وی. ۹ غلامانو ته ووایه چې د خپلو مالِکانو حُکم دې منی
او په هره خبره کښې دې هغوئ خوشحاله ساتی او د هغوئ سره دې
بحث نۀ کوی، ۱۰ غلا دې نۀ کوی بلکې پوره وفادار دې وی نو
چې د دوئ هره خبره زمونږ د خلاصوونکی خُدائ پاک د تعلیم
ښائسته وی. ۱۱ ځکه چې د خُدائ پاک فضل د ټولو خلقو د
خلاصون دپاره څرګند شوے دے. ۱۲ او مونږ ته دا تعلیم راکوی
چې بې‌دینی او دُنیاوی خواهشونه پرېږدو او په موجوده زمانه کښې په
پرهیزګاری، صداقت او دینداری سره ژوند تېر کړُو، ۱۳ نو چې مونږ
د هغه مبارک اُمید، او د خپل لوئ خُدائ پاک او خلاصوونکی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسیٰ مسیح د جلال د څرګندېدو په اِنتظار کښې یُو. ۱۴ نو هغه هغه څوک دے چا چې خپل ځان زمونږ دپاره قربان کړو چې مونږ د هر قسمه بې‌شرعي کارونو نه آزاد او پاک کړی او خپل هغه خلق مو جوړ کړی څوک چې د نېکو کارونو خواهشمند دی. ۱۵ په پوره اختیار سره دغه خبرې کوه، او د خلقو اصلاح کوه او ملامته کوه یې. هیڅ څوک دې تا ته په سپکه سترګه ونۀ ګوری.

د نېکو کارونو ساتنه کوه

۱ ایماندارانو ته دا خبره وریاده کړه چې د حاکمانو او د اختیار د خاوندانو فرمانبرداری دې کوی او د هر نېک کار دپاره دې تیار وی. ۲ د چا بد دې نۀ وائی، بحث مباحثه دې نۀ کوی بلکې نرم مزاج دې وی، او د هر چا سره دې ډېر په ادب خبرې کوی. ۳ ځکه چې مونږ هم اول ناپوهه، نافرمانه، ګمراه او د قِسما قِسم خواهشاتو او د عېش و عشرت غلامان وُو او په بدخواهۍ او په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حسد کښې مو ژوند تېرولو، هر چا زمونږ نه نفرت کولو او مونږ هم د
هغوئ نه نفرت کولو. ۴ خو کله چې زمونږ د خلاصوونکی خُدائ
پاک فضل او د انسان سره د هغۀ مینه څرګنده شوله، ۵ نو هغۀ
مونږ له خلاصون راکړو، خو د صداقت د کارونو په سبب نۀ، کوم
چې مونږ په خپله کړی وُو، بلکې د خپل رحم په وسیله یې ووینځلُو
او د روحُ القُدس په وسیله یې نوے ژوند راکړو. ۶ خُدائ پاک
روحُ القُدس زمونږ د خلاصوونکی عیسیٰ مسیح په وسیله په مونږ ډېر
زیات نازل کړو، ۷ نو د هغۀ د فضل په وسیله مونږ صادقان شُو او
د تل ژوندون د اُمید وارثان شُو. ۸ دا قابل اعتماد خبره ده او زۀ
غواړم چې تۀ د دې خبرو تاکید وکړې چې څوک په خُدائ پاک
ایمان راوړی هغوئ دې خپل ځانونه په احتیاط سره نېکو کارونو ته
وقف کړی. دا خبره بهتره ده او د ټولو خلقو دپاره ګټوره ده. ۹ خو
د بېوقوفۍ د بحثونو، د شجرو او جګړو او د شریعت جنګونو نه
ځان ساته، ځکه چې دا فضول او بېفائدې دی. ۱۰ د یو او دوه
ځله نصیحت ورکولو نه پس د هر هغه چا سره تعلق ختم کړه څوک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې بې‌اتفاقی جوړوی. ۱۱ ځکه چې تا ته پته ده چې داسې کس
ګمراه شوے دے او ګناه ګار دے او خپل ځان يې مجرم کړے
دے.

آخری نصیحتونه او سلامونه

۱۲ ما دا اراده وکړه چې تاسو ته ارتِماس یا تخیکوس درولیږم. نو
چې په دوئ دواړو کښې هر یو درورسیږی نو چې ما سره مِلاو شئ
ځکه چې ما په نیکوپولیس کښې د ژمې تېرولو فیصله کړې ده. ۱۳
نو زیناس وکیل او د اپولوس په راتلو کښې د هغوئ هر رنګه مدد
وکړئ، او خیال کوئ چې هغوئ ته د څۀ څیز کمے رانۀ شی. ۱۴
زمونږ خلق دې خپل ځانونه نېکو کارونو ته وقف کړی، د دې دپاره
چې د ضرورتمندو خلقو حاجتونه سمدستی پوره شی نو چې ژوند
بې‌فائدې نۀ شی. ۱۵ هغه ټول ملګری چې ما سره دی تاسو ته
سلام وائی. هغوئ ته هم زمونږ سلام وایه چې په ایمان کښې مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره مینه کوی. په تاسو ټولو دې د خُدائ پاک فضل وی.